# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤۳۳ ګڼه / سه شنبه ۱٤ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰٤ ثور ۱٤۰۳ هـ.ش / ۲۳ اپریل ۲۰۲٤ میلادي


## د امریکایي یرغل له پیل وروسته د امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د لومړنی اعلامیې یوه برخه

په داخل او خارج کې ټول مسلمانان باید په دې پوه شي چې د جهاد په مقدسه لاره کې مرګ، مرګ نه دی.
بلکې د یوه ابدي خوشاله ژوند پیل دی. مسلمانان باید په دې لاره کې ستړي نه شي. حوصله له لاسه ورنه کړي. له صبر، استقامت او غیرت څخه کار واخلي. ځکه چې مسلمانان باید په دې عقیده ولري چې مرګ یو مرګ دی او هېڅوک له مرګ نه شي خلاصېدلی، نو د شهادت مرګ چې چا ته ورسېږي دا باید یو ستر افتخار، کامیابي او د الله تعالی لوی نعمت وبولي.
د امریکا د جمهور رییس بوش دا خبره حقیقت لري چې دا جګړه د مسلمانانو پر ضد صلیبي جګړه ده، نو باید د نړۍ په هر ګوټ کې مسلمانان د خپلې دفاع لپاره اسلامي او شرعي فعالیت ته دوام ورکړي. جهاد که په توره وي، که په ژبه او که په قلم اوس د نړۍ په ټولو مسلمانانو فرض دی. ۷مخ




## مرحوم امیرالمؤمنین د امریکا له یرغل وړاندې خپل ولس ته څه وویل!؟

**پر افغانستان د امریکا له یرغل څو ورځې وړاندې اسلامي امت او د افغانستان مېړني ولس ته د عالیقدر امیرالمؤمنین وینا !**

**محترمو مسلمانانو او د افغانستان غیور ولسه!**

په تاریخ کې دا درېیمه امپرطوري ده چې پر موږ تېل کېږي او تحمیلېږي، تاسو ټول په دې خبریاست چې د انګرېزانو څه حق و چې په افغانستان یې حمله وکړه یا یې تعرض کاوه؟ هلته خو اسامه نه و؟ د روسانو څه حق و، چې په افغانستان یې حمله کوله یایې تعرض کاوه یایې اشغالولو؟ هلته خو به اسامه نه وو؟ اوس دا درېیمه امپراطوري ده چې پر موږ تحمیلېږي، تاسو ټول په دې پوه یاست چې دا یوازې د اسامه موضوع نه ده، دا د اسلام سره ضد او عناد دی چې دې خلکو راخیستی دی ، دا صحیح ده چې په امریکا کې دا پېښه شوې ده ، هرسړی په دې یوه دی چې داسې پېښه په داسې منظم ډول پېښه دا د یوه مهاجر او بې وسایلو، بې سرو سامانه سړي په وس پوره نه ده. دا هېڅ امکان نه لري، دا چې هرڅوک دی او هرڅوک چې یې کوي، دوی ته ښه معلوم دي، پر هغوی دوی لاس نه رېږي، دوی یو وار دا موضوع سرته رسوي چې هلته واقعي مسلمانان او اسلام دی، واقعي د یو دین رېغ ځینې پورته کېږي، دا دوی د خطر زنګ بولي او دغه د خطر زنګ ته دوی متوجه دی، نو تاسې ټول په دې پوه سئ چې د دې بحران څخه وتل یوازې او یوازې پرخپل خدای جل جلاله باندې اعتماد کول، صبر او ثبات دی، یوازینی ذریعه د کامیابي دغه شیان دي.
دا چې امریکا کروز توغندي راغورځوي یابه بمبار کوي یا به تعرض کوي، هره خوا یې چې کوي دا زموږ او تاسو په مخکې ده، دا په بې غیرتیا ۷مخ

## د نجات الهي لورینه د هغه په شخصیت کې!



په دنیاکې ډېر لوی لوی خلک تېرشوي او هر یوه یې په خپل وخت کې دغه لویوالي ته ځانګړي اسباب او علتونه خپل کړي، موږ چې په یوویشتمه پېړۍ کې اوسېږو او د دې پېړۍ ننګونو ته ګورو، فکر کوو چې بل هېڅ وخت به دغه ډول حالات او شرایط په چا نه وي راغلي او نه به د ملتونو په سطحه دومره لویې غمیزې او تراژېدۍ چا لیدلې وي، شاید تر ډېره دا پر ځای هم وي، ولې چې نړۍ اوس هغه نړۍ نه ده، چې د خلکو په ذهن کې یې موهوم لویوالي شتون درلود او له حقیقته یې تر ډېره ځایه نه خبرېدل، اوس چې د یوکلي حیثیت لري، نو د نړۍ په سطحه پېښېدو کې زموږ د هیواد قضیه یوه داسې پېښه وه او ده چې د نړۍ په هرکونج کې ترکلونو کلونو د ورځې خبر او سرخط وي، همدا هغه څه دي چې پورته حقیقت رښتیا کوي.
افغانستان - شاید چې د نولسمې پېړۍ تر وروستیو هم ډېرو خلکو نه پېژانده ۲مخ

## مرحوم ملا محمد عمر مجاهد هغه قاید ؤ، چې ...!!

محمد عمر هغه ماشوم و، چې په ۱۳۳۹ل، کال د کندهار د خاکریز ولسوالۍ د چاه همت کلي د مولوي غلام نبي صاحب په کور کې وزیږید. مولوي غلام نبي هم په خاکریز ولسوالۍ کې دنیا ته راغلی، د ژوند تر پایه د امامت او تدریس په سپېڅلو دندو مشغول و، په ۱۳٤٤ ل، کال د ډنډ ولسوالۍ د نودې کلي کې وفات شوی او د کندهار ښار د طالبانو په مشهوره پخوانۍ هدیره کې خاورو ته سپارل شوی دی.
یتیم محمد عمر په پینځه کلنۍ کې د خپلو اکاګانو سره د ارزګان ولایت دهراود ولسوالۍ ته ولاړ، هلته یې د خپلو ترونو( مولوي محمد انور او مولوي محمد جمعه) تر سرپرستۍ لاندې زده کړې پیل کړې، د شهر کنهه په دیني مدرسه کې شامل شو، لومړنۍ، منځنۍ او متوسطه زده کړې یې همدلته بشپړ کړې، خو پر افغانستان شوروي یرغل یې د لوړو زده کړو ارمان له منځه یووړ.
ملا محمد عمر هغه ځوان مجاهد و، چې د شوروي اشغالګرو پر ضد یې په ارزګان، کندهار او زابل ولایتونو کې په ډېرو جګړو کې برخه اخیستې او په ځانګړې توګه کندهار کې یې د کندهار- هرات سړک باندې روسي تاراکګرو او ګوډاګیانو ته یې ستر ستر ځاني او مالي زیانونه اړولي دي.
ملا محمد عمر مجاهد هغه اتل و، چې پر شوروي اشغالګرو او د هغوی پر مزدورانو خلقیانو او پرچمیانو یې سپینه ورځ توره شپه ګرځولې وه.
ملا محمد عمر مجاهد هغه غازي و، چې د شوروي یرغلګرو لسګونه زغره وال ګاډي او ټانګونه یې خال-خال په نښه او د اور خوراک کړل.
ملا محمد عمر مجاهد د الله تعالی د لارې هغه سپاهي و، چې د خپل معبود( الله ) د رضاء لپاره یې د ګران بدن ډېره مهمه عضوه( سترګه) وښندله.
ملا محمد عمر مجاهد هغه مخلص مجاهد و، چې د کمونستي رژیم تر نسکورېدو وروسته یې د هېڅ تنظیم په پلوي او مخالفت وسله پورته نه کړه. دیني مدرسه یې جوړه کړه او د افغان ولس بچیانو ته یې کتاب په لاس کې ورکړ.
ملا محمد عمر مجاهد هغه ستر او سپېڅلی مجاهد و، چې په تش لاس خو ایماني وسله او توکل محض سره یې د ټوپکسالارۍ او انارشۍ پر ضد پاڅون وکړ.
ملا محمد عمر مجاهد هغه قائد و ۷مخ

## سرمقاله

### افغان ولس د یو بل ښکېلاک تر جبر لاندې !

دا واقعیت پرخپل ځای ثابت دی چې افغانان همېشه دبهرني یرغل پرورړاندې ښه په مېړانه جنګېږي، بې ساري قربانۍ ورکوي اوکلکه مقابله کوي، ځکه په دوی کې ددې مبارزې داعیان اومخکښان زښته ډېردي اوتل ستایل شوي هم دي. خوله بده مرغه د ټولنیزواصلاحاتو اوناوړه دودونو پرخلاف د مبارزې ډګر مو بیخي سوړ دی. تردې چې زموږ ډېرو مخورو روحاني شخصیتونو هم په دې برخه کې خورا ډېر لږ کارکړی اوڅه معلوم او ښکاره اثارېې نه دي پاتې شوي. په داسې حال کې چې که ښه په غور اودقت فکروشي نو هرچا ته به دا حقیقت دلمر په شان واضح ثرګند شي چې زموږ ټولنه پرته له شکه د ناوړه رواجونو یوه ځورونکي ښکېلاک په لومو کې راګیره ده.
دغه ناوړه دودونه اوغیرشرعي بې ګټې پابندیانې نه پرموږ باندې څښتن تعالی لازمي کړي اونه کوم ظالم اوجابرسلطان بلکې دا فقط هماغه د انسان لوی اوښکاره دښمن ابلیس دی چې په غم، ښادۍ او دژوند نورو ډېروڅانګو کې یې خورا درانه بارونه اوتکلفات راباندې اېښې او زموږدبې ځایه ستومانۍ، کړاو او مالي زیان لامل ګرځېدلی. دالاڅه چې یاد تکلفات اوناوړه مجبورۍ ورځ تربلې نورې هم زیاتیږي، زموږ ملاوې کږوي اوپښې،لاسونه راتړي. خوپه ډېرتاسف ۷مخ

## د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د یوولسم تلین په مناسبت ځانګړې ګڼه

## ۲۰۰۱ م کال کې له BBC راډیو سره د مرحوم امیرالمؤمنین تاریخي مرکه

پوښتنه: په افغانستان کې د اوسني وضعیت په اړه څه فکر کوئ؟
ځواب: تاسو او د امریکا ګوډاګۍ راډیو ګانو اندېښنې پیدا کړې، مګر په افغانستان کې اوسنی وضعیت په یوه لوی علت پورې تړلی دی، هغه د امریکا تخریب او ویجاړې ده.
پوښتنه: د امریکا د تخریب څخه ستاسو مطلب څه دی؟ ایا تاسو یو پلان لرئ چې پیاده یې کړئ؟
ځواب: پلان پر مخ روان دی، که د الله تعالی خوښه وه دا پلان به عملي شي، مګر دا یو ډېر غټ کار دی، د انسان تر وس او فهم لوړ دی، که دالله ج مرسته له موږ سره وه، نو دا به په نږدې وخت کې ترسره شي.
دا خبره تاسو په فکر کې ونیسئ او یاد یې لرئ.
پوښتنه: أسامه بن لادن خبرداری ورکړی،چې هغه به د امریکا پر ضد له اتومي، کیمیاوي او بیولوژیکي وسلو څخه کار واخلي، ایاستاسو ګواښ خو به له دې خبرداري سره تړاو نلري؟
ځواب: دا د وسلو خبره او موضوع نده، موږ دالله ج مرستې ته تمه لرو، اصلي خبره د امریکا د ویجاړۍ ده، ان شاء الله امریکا به مځکې ته را غورځي.
پوښتنه: په تېرو څو ورځو کې تاسو د څو ولایتونو کنترول له لاسه ورکړ، ایا تاسو به له لاسه ورکړې سیمې بیرته ونیسئ؟
ځواب: بلی موږ هیلمن یو چې تاسو به داسې تغییرات وګورئ لکه څرنګه تبدیلي چې تاسو اوس ولیدله.
پوښتنه: د دومره تیز شاتګ دلیل څه وو؟ ولې ستاسو پوځیانو له ښارونو تېښته وکړه؟ ایا دا لامل وو چې تاسو د امریکا له بمباریو متاثر شوی او که مو پوځیانو له تا سره چل(خیانت) وکړ؟
ځواب: ما تاسو ته وویل، چې دا په هغه لوی کار پسې تړاو لري.
پوښتنه: کولای شې راته ووایاست اوس مهال څو ولایتونه ستاسو تر کنترول لاندې دي؟
ځواب: موږ څلور پنځه ولایته په کنترول کې لرو، مګر دا مهمه نده چې څومره ولایتونه زموږ په واک کې دي، یو وخت داسې و چې موږ یو ولایت هم نه درلود او بیا داسې وخت راغی چې موږ ټول ولایتونه په لاس کې درلودل، هغه ولایتونه چې بیا مو په یوه اوونۍ کې ټول له لاسه ورکړل، نو د ولایتونو شمېر مهم نه دی.
پوښتنه: څرنګه چې په راتلونکې حکومت کې ستاسو ګډون مخکې لمخکې رد شوی، که چېرې ستاسو یو شمېر کسان د طالبانو په استازیتوب حکومت کې ګډون وکړي، یا ټول طالبان او یا هم منځلارې طالبان، تاسو به له دې پرېکړې سره مخالفت وکړئ؟
ځواب: په طالبانو کې داسې شی وجود نه لري، طالبان ټول منځلارې دي. دلته دوه شیان دي افراط او تفریط موږ تل د منځ لاره نیولې،نو په دې حساب سره موږ ټول منځلارې یو. او منځنۍ لاره تعقیبوو.

ژباړه: احمد الله وثیق

# د محکمې واکمنۍ بنسټ ایښودونکی!

محمدعلي‌عظمت

اتلـو هېوادوالو په یوه پېړۍ کې درې سـتـرواکۍ وځغلولې، د شـلمې پېړۍ په وروسـتیو لسیزو کې یې شوروي اتحاد راچپه کړ او له نړۍ یې د کمونېزم تغر ور ټول کړ. ولې مشران د نظام په جوړولو کې پاتې شول، د واک په سریې خپلمنځي جنګونه ونښـلول. هغو دومره شـدت ونیو چې هر لوري ته پاټکسالاري پیل شـوه، له ښځو سیني غوڅې شوې، د انسـانانو په سرونو کې د هغو د عمرونو مطابق میخونه ټک وهل شـول، د مړو نڅاوې ننداره شـوې او له ټولو بده خو یې لا دا چې له هلکانو سـره نکاح ګاني وترل شوې، د غیور ملت لوړې شملې ښکته / کړې شـوې. کوم نوم چې افغانانو د شوروي اتحاد په ماتولو ګټلی و، هغه بې ارزښته شو.

له هرې تیارې وروسته رڼا وي، له هرې سختۍ وروسته اسانتیا وي، نو الله جل جلالـه په افغانانو هم د رحم دروازې راخلاصـې کړې او د دې ټولو نادودو او ناخوالو د ختمولو لپاره ارواښـاد امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله له څو طالبانو سـره د ولس په ملاتړ راپورته شـو او د هر اړخیز ظلم تغر یې ور ټول کړ.

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهـد د مولوي غلام نبي زوی د مولو محمد رسول لمسی او د مولوي باز محمد کړوسی و، چې په ۱۳۳۹ هـ.ش کال یې په یوه دینداره عالمه کورنۍ کې د کندهار په خاکریز ولسـوالۍ، د چاه همت کلي کې نړۍ ته سترګې وغړولې، نوموړی په قوم هوتک و، د ګرګین او د هغه د برېڅو شړونکي (میرویس نیکه) هم هوتک و.

د ارواښاد امیرالمؤمنین په پنځه کلنۍ کې پلار وفات شو. نو کورنۍ یې د ارزګان دهراود ولسـوالۍ ته کډه او له خپلو ترو سـره میشت شو. لومړنۍ زده کړې یې هلته وکړې، لا یې د عمر اتلسـم پسـرلی نه و وهلی چې د لینن زامنو (افغاني کمونستانو) کودتا وکړه، نو ده هم د جهاد سنګرونو ته ودانګل، درسونه نیمګړي ترې پاتې شـول، په ډېرو جنګونو کې یې د خپلې خوښـې وسله (RPG۷) د دښـمن په ټانکونو چلوله، څلور ځله زخمي شو، چې یوه سترګه یې هم د الله جل جلاله په لاره کې قربان کړه. په بېشـماره عملیاتو کې یې برخه اخیستې او توره یې ځلولې وه . کله چې د کمونسـتانو نظام چپه شـو او مجاهدینو کابل ونیو، نوموړي هم راکټ له اوږو ښـکته کړ او د نیمګړو درسونو بشپړولو ته یې مخه کړه، هم یې خپله لوسـتل او هم یې افغان بچیانو ته ور ښـوودل. ولې تر ډېـره یې دوام ونه کړ او د ظلم او ناروا خلاف د خپلو ملګرو او ولس په ملاتړ په ۱۹۹۴م کې بیا راپورته شو. ډېر ژر یې زورواکان او پاټکسالاران ځینې په ګونډو او بعضې یې کابل ته وځغلول. په ډېرې چټکۍ سره یې ډېر ولایتونه، ولسوالۍ او سـیمې ونیولې. هماغه و چې د ۱۹۹۶ م کال پرمهال د هېواد ګڼو جیدو علماؤ د امیرالمؤمنین لقب ورکړ، چې په خپله وینا کې یې داسـې وویل: (اې علماؤ! تاسو د خپل شرعي علم له مخې د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د وارثانو حیثیت لرئ، تاسو چې نن ما ته د غه دروند مسؤلیت په اوږو را واچاوه، په حقیقت د هغه د استقامت او انحراف مسؤلیت ټول ستاسو په غاړه دی.)

ارواښـاد امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د یو داسـې محکمې واکمنۍ بنسـټ کېښـود چې ګران هېواد یې یوځل له شـر او فسـاده خـلاص کړ، د پاټکسالارانو ګیلم یې ورټول او د هېواد په ۹۵ سلنه خاوره یې سپین بیرغ ورپاوه او اسلامي حدود یې نافذ کړل.

د ۲۰۰۱م کال د سـتمبر له ۱۱مې وروسـتـه چې صلیبیانـو یرغل وکړ،نو هغه او مخلصو شـاګردانو یې د صلیبي اشـرباښو په خلاف، له غوره جهاد کولو وروسـته له هېواده تېتې سـترګې وځغلول او اوس بیا اسلامي امارت د هېواد د چارو واګې په لاس کې اخیستې دي.

د ۲۰۰۱م کال د سـتمبر له ۱۱مې پس د امریکا دیکتاتـور جورج واکر بوش د پېښـو مسـؤل القاعده وبلله او په ۷م اکتوبر یې په افغانسـتان یرغل وکړ. د افغانستان اسلامي امارت هم ښه مقاومت وکړ، ولې د ولسي تلفاتو د ډېرېدو له امله یې شاتګ وکړ. هېواد د صلیبیانو له خوا اشغال شو. اما د کلک عزم خاوند ملا محمـد عمر مجاهد رحمه الله د امریکایانو نظامي مرکز ته نژدې مېشـت شو، د امارت ټولې چارې یې له هغه ځایه تنظیمولې او پر مخ بېولې. تر څو هغه ته د اجل پرېښـته راغله. هېڅکله یې کوم ګاونډي هېواد ته هجرت ونه کړ. که کړې یې وای نو د خپلو نژدې ملګرو په برخلیک به اخته شوی و!! بل د صلیبي دښمنانو له لوري هرې خوا ته جاسوسان له لویو ډالیو سره خپاره واره وو، څو د اسلامي امارت په لیکو کې اختلاف او افتراق ایجاد کړي.

خو هوډمن امیرالمؤمنین رحمه الله هیڅ ځای ته نه لاړ او په خپل هېواد کې یې هسـتوګنه غوره کړه، د جهاد چارې یې سمبالولې. په ۲۰۱۳م کال ناروغ شو، چې رنځورتیا یې ورځ تر بلې سختېده او بالاخره د همدې کال د اپریل میاشتې په ۲۴مه وفات شو( رحمة الله علیه رحمة واسعة). د نوموړي له وفاته وروسته ټول امورات مـلا اختر محمد منصور رحمه الله پر مخ بېول څو نوموړی هم د امریکایي ډرون په واسطه په شهادت ورسېده.

ارواښاد لوی ملا صاحب رحمه الله د محکمې واکمنۍ بنسټ کېښود، چې تر اوسـه هیڅ اختلاف په کې نه دی راغلی. ټول چارواکي یې د ورونو په څېر سره چلېږي.

نوموړي داسې شـخصیت درلود چې نه یوازې ملاتړو بلکې دښمنانو یې هم د هوډ، زړورتیا او تدبیر ستاینه کوله او هغه یې په ښه نوم یاداوه.

تل او همېشه دې وي د افغانستان اسلامي امارت

# ملا محمد عمر مجاهد (رح) آن مجسمِ للهیت و قاطعیت

مولوی انعام‌الله سمنگانی

یازده سـال از رحلـت امیرالمؤمنین مـلا محمد عمر مجاهـد (رحمه الله) مـی گذرد ، آن ابر مرد که نام نامـی و کارنامه های فراموش ناشـدنی اش در تاریخ شـیردلان و آزادگان می درخشـد ، آن مرد تاریخ ساز که توانسـت با عزم والا و آهنیـن اش تاریخ مبارزه و مقاومـت را درخشـان تر سـازد ، تاریـخ حریت و حمیـت اسـلامی بدون داسـتان های پر سـوز و دل افروز وی نا تمام اسـت ، مسـند امـارت و خلافت بر آن مجسـم لِلهیـت و قاطعیت افتخار مـی بالید . خلافـت عثمانی ترک هـا به عنـوان آخرین خلافت مسـلمان ها هفتاد و دو سـال پیش ( در سال ۱۹۲۲م ) از هم فروپاشـیده بود و جهان کفر در اثر دسـایس پیهـم توانسـتند جهـان اسـلام را از آخرین خلافت اسلامی محروم بسـازند ، چند نسلِ اخیر مسلمان ها « در طـی هفت دهـه » تنها از زبانِ تاریـخ از تابانی ها و درخشانی های خلافت های اسلامی می شنیدند و لیکن بسـیاری آنان هرگز گمان نداشتند که فرزندان اسـلام یکبار دیگر به دیدار امارت و خلافت اسلامی شـرف یاب خواهند شـد، بلی، جهان کفری شـرق و غرب در قرن بسـت میلادی اتفاق نظر داشـتند ( و هنـوز هـم دارند ) که دیگـر نباید سیسـتم حکومت داری بنـام امارت و خلافـت اسـلامی در جهان به وجود بیایـد و محور امید برای جامعه ای ملیارد نفری مسـلمان ها در سراسـر جهان بگـردد، جامعه ای که بنام های گوناگون در ۵۸ کشـور تقسیم گردیده است، با همدیگر دسـت و گریبان اسـت و کشـمکش های لسـانی، نژادی، مذهبی و مرزی در آن به اوج رسـیده اسـت ، اما ملا محمـد عمر مجاهـد (رح)، آن مرد خدا پرسـت توانست با شـهکاری ها و مردانگی های سپاهانِ جان نثار و سر بکف خود امارت اسلامی را در سرزمین مردخیز افغانستان بنیاد گذاشته نظام مصفای شـریعت محمدی (رح) را در سایهء آن حاکم بسازد . امارت اسـلامی افغانستان به سـرکردگی و فرماندهی آن مرد جلیـل القدر نه تنها افغان هـا را از پنجه های خون آشـامِ ملوک الطوایفی و تفنگ سـالاری نجات داد، بلکـه تولید روز افزون مواد مخدر در افغانسـتان تنها به یک فرمان امیرالمؤمنین (رح) به صفر رسـید، این کارنامه های بزرگی اسـت که حتی دشـمن نیز بر آن اعتراف دارد، اما رژیـم دموکراتیک کابل با وصف همکاری های چنـد میلیارد دالری و پشـتیبانی های سیاسـی جهان غـرب و موجودیت چند هـزار نفری نیروهای امریکا و ناتو دچار ملوک الطوایفی شده بود، جنجال قـدرت خواهی جناح های رژیم به مسـخره بازی مبـدل گردیده، فرمان های سـران رژیم کابل از روز اول ارزش و اهمیت نداشته و برای حل هر مشکل خـورد و بزرگ باید از واشـنگتن فرمان صادر گردد، و جهان اعتراف داشـت که پـس از تهاجم امریکا و ناتو بر افغانستان کشـت مواد مخدر درین کشور بسیار به شـدت رشد نموده اسـت و افغانسـتان در تولید مواد مخدر در سطح جهان به جایگاه اول رسیده بلکه ۹۰٪ مـواد مخدر در جهان از افغانسـتان صادر می شـد . شـوروی در آخرین دههء قرن بسـت میـلادی از هم فروپاشـید و جورج بش رییس جمهور یشین امریکا با آغاز قرن بسـت و یک میلادی اعلان نمود : امریکا به عنوان یگانه قدرت بزرگ، سیاست و تجارت دنیا را زیر نامِ « نظم نوین جهان NEW WORLD ORDER» در کنترول خود می گیرد، بدون شـک، دران سـال ها هیچ یکی از کشـورهای پیش رفته و عقب مانده حتی در خـواب و خیال هم جرات نداشـتند در برابر آن ابر قدرت جهان موقف بگیرند، کشـورهای اسلامی و غیر اسـلامی به هر ناز و غمزهء امریکا با دست های بسته وردِ لبیک را به زبان داشـتند و حتی از گریه و شـکوه نیز خود داری می کردنـد تا مبادا.........، اما این امیرالمؤمنین مـلا محمد عمر مجاهـد (رح) بود که گفـت « یک طرف وعـدهء همـکاری خداوند تعالی است و طرف دیگر هشدارهای جورج بوش ، می بینیم کدام آن صداقـت دارد، ما همچون صاحبان ایمان، بر این وعـدهء خداوند تعالی باور داریـم که به کمک و نصرت بندگان خود می رسد » ، امیرالمؤمنین (رح) بر اساس همین یقین کامل قدرت چند روزی دنیا را لگد زد، شـان و شـوکت دنیا را بدون اگر و مگر ترک گفت و مردانه وار میدان مبـارزه و مقاومت را انتخاب نمود و للـه الحمد به نصرت ویژهء خداوند کریم دشـمنان اسلام را پاسخ های دندان شکن داد و مبهوت ساخت . بسـیاری ها امارت اسـلامی را هدف طنز و تمسخر قـرار می دهند که برای یک شـخص بیگانه « شـهید شـیخ اسـامه بن لادن (رح) » یک نظام را از دسـت دادند ، اما چنانکه هویدا اسـت شهید بن لادن (رح) در سراسـر جهان برای فرزندان اسـلام نمـادِ جهاد و الگوی مقاومت بود، سـپردن یا فروختن وی به امریکا بـرای امیرالمؤمنین (رح) حتی قابـل تصور هم نبود، زیرا خیانت با شـخصیتِ همچون شهید شیخ بن لادن (رح) بدین معنی بود که امارت اسـلامی از سـپردن و فروختن هیچ فرد مسـلمان باکی نـدارد، در حالی کـه امیرالمؤمنیـن (رح) محافظت از ادنـی ترین فرد مسـلمان را از وظایف عمده و اساسی امارت اسلامی افغانستان می دانسـت، اما امروز لله الحمد، فرد فرد امارت اسـلامی بلکه تمام مسـلمان های با احساس جهـان به این جـرات و شـهامتِ امیرالمؤمنین (رح) افتخار دارند و می نازند .

# د نجات الهي لورینه د هغه . . .

او نه خو به د دې اړتیا لېدل کېده چې د تعلیمي نصاب په جغرافیه کې دې د دې هیواد نوم راوړل شي؛ خو اوس یې چې د نړۍ په سطحه د نوم له ذکر سره کوم حیثیت دی، په همدومره حیثیت او ارزښت د دې هیواد پېښې د نړۍ د بل هر هیواد په پرتله مهمې او ارزښتناکې دي او په دې هیواد کې د دغه نړیوالو ننګونو پر وړاندې د ولاړو شـخصیتونو شخصیت او رهبري ته تردې په څو برابره لوی مقام او خورا ارزښـت ورکوي ، په تېره بیا چې د افغانستان له وضعیت سره د نړۍ وضعیت څه،چې د نړۍ نقشه هم تغییر شوه!!. همـدا چې زموږ د هیـواد د څلورو لسـیزو انقلابونو او جریاناتو د نړۍ وضعیت بدل کړ، ښایي چې د دې هیواد له اراضي نیولې بیا تر ولس، شرایطو، آب و هوا او موقعیت پورې هر څه یې ډېر مهم وي او هر یو یې د دې وړ دې چې تر ځانګړې څېړنې لاندې ونیول شـي، نو له هغه څېړو او شخصیتونو به یې څه وایې چې په دغه خاوره کې یې د دغه ولس او ملت رهبري کړې او پر ځان یې راټول کړي ؟!!!

موږ ته په هیواد کې ټول مشران، رهبران، حاکمان او قایدین ښـه معلوم دي، که یو وخت په یو چا غولېدلي یو او نه مو دی پېژندلی، خو وخت بیا خپله را پېژندلی، که یوه زمانه یې موږ په ملاتړ کې منډې او نارې وهلې دي، وروسـتي عقل بیا داسـې ترې بېزاره کړي یو، چې د نوم له ذکر سره یې کرکه او نفرت تر ډېره زموږ له ذهنه نه لرې کېږي، دغه غبرګون او عکس العمل د هغو کړنو مولود دی چې زموږ په هیواد کې د بېلابېلو فکرونو او نظریو خاوندانو پر موږ د تسلط او حاکمیت پر وخت له موږ سره ترسره کړي.

د « ښـه نه ورک کېږي اوبد نه پاتې کېږي» پر مقتضا به په خپل څلورلسیز انقلاب کې یوه مقایسه او پرتلنه وکړو، چا وژغورلو او چا د وخت نادودو ته ور ټېل وهلو:

په هیواد کې د سیاسـي ټیکاو د له منځه تلو او د عمومي وضعیت د بدلون، یا د هیواد د ناخوالو د پیل نېټه د ۱۳۵۷ هش کال د ثور کودتا ښـودل کېږي، له هماغې ورځې تر ننه چې نږدې څلوېښـت کاله کېږي موږ ډېرې ناخوالې ولیدلې ، په دې ټوله څلوېښـت کلنه اوږده موده کې که د ښو د ښـه او د بدو د بد تمیز ونه کړای شو ښایي د انتقاد ګوته راته ونیول شـي او عقلاً هم ترسوال لاندې راشو .په خپله د ژور سوچ او تاریخي مطالعې په نتیجه کې د رهبري په مقام کې د اشـخاصو په پرتله د ټولو له منځه عالي قدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمر « مجاهد» ته په ټول درناوي، د هغه عظمت، حقانیت، اخلاص او رښـتینولۍ ته قایل یم او له نورو ټولو پـه ادب! تېرېږم، د هیواد مینه، له ولس سـره خواخوږي، وفا او اخلاص یوازې په ده کې وینم، د تېرې څلوېښـت کلنې غمیزې تر ټولـو خواخوږی او مخلص رهبر یې بولم.د مرحوم امیرالمؤمنین رحمه الله د شخصیت په اړه یو څو هغه ځانګړنې ذکر کوم چې فکرکوم د ده په شـخصیت کې تر نورو ډېرو مهمې دي خو زموږ ډېرو ور پام نه دی :

## د ولس د نجات انګېزه

د نویيمـو کلونو له ظلـم ، جهل، تاریکیـو، بربریت او وحشـته هر څوک کړېدل او هر هیوادوال دې حالت ته په کتو ځورېده، خو د ولس د نجات داسـې انګېزه او فکر به له چاسـره نه و چې عملي اقدام وکړي او په دې لار کې د سـر په بیه سوچ او سـودا وکړي ، دغه د نجات سوچ او عملي اقدام د هیواد له منځه یو تن مجاهد شخصیت چې له روسانو او کمونستانو سره د جهاد او له هغه په را وروسته دوره کې له فسـاد او خیانته پاک شخصیت و همدا ( ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله) و، چې له شـته ظلمونو وحشـتونو د افغان مسـلمان ولس د نجات او د تېر پاک جهاد د ثمرې د اعادې په نیـت یې د (۱۴۱۵هـ ق) کال د محرم د میاشـتې په (۱۵) او (۱۹۹۴) میلادي کال کې عملي قدم پورته کړ او د خپلو یو شـمېر همداسې دردمنو ملګرو په ملتیا یې د کندهار میوند ولسـوالۍ له « سنګ سار» څخه وسله واله مبارزه پیل کړه .

## د نظام صلاحیت

په یوه داسې هیواد کې چې د تاریخ ډېره برخه یې له جنګ جګړو ډکه وي او خلک یې سرشـوخه او سرشاره وي؛ په یوه نظام راټولول څه اسـان کار نه دی، پـه تېره بیا چې د نویيمو کلونو په څېر ناخوالو سره پکې لاس و ګرېوان وي، هیواد دې په ملوک الطوایفي بدل شـوی وي، فساد پکې اوج ته رسېدلی وي، په سیمه کې دې واکدار یو جلا پاچا او واکمن وي، په داسې هیواد او داسې شرایطو کې لومړی د نظام رامنځته کولو او بیا د نظام پر مخ بیولو صلاحیت په هر چا کې نه شي پیدا کېدلی .

امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په افغان ولس د الله تعالی له لوري د نجات او رحمت همداسـې لورینه او شـخصیت و چې په هماغه ناوړه شـرایطو کې یې هیواد شـموله نظام رامنځته کړ او په ډېر ښـه شان یې دغه نظام رهبري هم کړ، نه یواځې دا چې د نویيمو کلونو تنظیمي جنګونه، فسـاد، بې دیني، ملـوک الطوایفي او بېلابېلې ناخوالې یې ختمـې کړې، بلکې د هیواد ارضي تمامیت یې خوندي او د هیواد د شـتمنیو د چور او تالان مخه یې ونیولـه .د مرحوم امیرالمؤمنین د دغې لورینې او رحمت احساس هغه چا ته ښـه کېدلی شي چې د هغه وخت ظلمونه او ناخوالې یې په خپلو سترګو لیدلې وي .

## قوي فراست

فراسـت هغه قـوه ده چې الله تعالی یـې د خپلو اولیاوو (دوستانو) په زړونو کې اچوي او په برکت یې د خلکو حال ځان ته معلومولی شي، پیغمبرص فرمایي : د مسلمان له فراسـته ځان ساتئ ځکه هغه د الله تعالی د نور په مرسته لیده کاته کوي . [رواه الترمذی]د نظام د چارو په ترسـره کولو او د دومره لوی هیواد او سـتر ولـس په قیادت کې له مرحوم امیرالمؤمنین رح سـره د الله تعالی له ځانګړو مرستو څخه یوه هم هغه فراست و چې نوموړی پرې د الله تعالی له لوري ځانګړی شـوی و، له هر مسلمان سره څه ناڅه فراسـت وي، خو مرحوم امیرالمؤمنین له خورا قوي فراست څخه برخمن و.

د بېلګـې په ډول به یې یو څو ذکر کړو (چې له ثقه او کره ملګرو څخه اورېدل شوي) د امارت د حاکمیت په وخت کې اسلامي امارت هڅه کوله چې په ملګرو ملتونو کې د افغانسـتان څوکۍ ترلاسه کړي په دې هڅو کې و چې یو وخت د سعودي استخباراتو ملا عبدالجلیل اخند ته ویلي و چې که د دغې څوکۍ لپاره حامد کرزی انتخاب کړئ قوی سړی ده، شـاید دغه څوکۍ درته وګټي، کله چې دا خبره له مرحوم ملاصیب سره شریکه شوه په ډېر لنډ ډول یې ورته وویل : (( هغه خو د دوی خپل سـړی دی موږ ته به څه وکړي، سبا به یې له ځانه داسې اعلان راپسې کړي وي چې بیا به نه جبیره کېږي))

دغه راز په نظامي برخه کې یې په کابل کې د دفاع وزارت مسؤلینو ته ویلي و چې زما شخصي رایه دا ده چې د کابل له لوري د شمال فتحه پرېږدئ، د شمال لوېدیځ ولایتونو فراه او بادغیس له خوا پرې راشـئ، خو د نظامي مسؤلینو ټینګار دا و چې نه! د کابل له خوا دې وشي اکمالات اسانه دي او ...وخت بیا همداسې ثابته کړه .

د مرحوم د فراست په اړه مفتي محمد تقي عثماني صاحب هم یادونه کړې کله چې د علماوو په یوه هیئت کې کندهار ته تللی و او هلته یې ورسره لیدلي و، نوموړی وایي مرحوم ملاصیب د خورا قوي فراست څښتن و .

آن تر دې چـې د امریکایانو پر وړاندې د بیا متحد کېدلو د قوي صف راتلو او بالاخره په افغانستان کې د امریکایانو ماتې او د هغوی له لوري د مذاکراتو غوښتنې او تور لست د له منځه تلو وړاندوینه یې هم کړې وه .

## ملا

مرحـوم امیرالمؤمین مـلا محمد عمـر مجاهد رح که هرڅومره وستایل شـي او د هغه هر څومره خصوصیتونه یاد شي، تر ټولو مهم صفت او مزاج چې هغه پرې یادېږي هغه د « ملاتوب» هغه صفت دی چې په ټولو صفتونو او خصوصیتونو یې فوقیت پیدا کوي، په افغاني ټولنه کې ملا هغه څوک دی چې ولس په هر وخت او هر رنګه حالاتو کـې یوازې د هغه مني، پرهغه اعتماد کوي او بس، بل که د هرې طبقې سـړی وي په ټولنه او اجتماع کې به مجبوراً په ملا پسې وي او له ملا سره مخالفت یې له ولس سره په مخالفت تمامېږي، نو هېڅکله نه شي کېدای چې افغاني ټولنه او ملا سـره جلا کړل شي علامه اقبال لاهوری رح دغـه امتزاج په ښـه ډول درک کړی او د شـیطانانو په یوه خیالي سلا مشوره کې د هغوی په ژبه وایي :

افغانیوں کی غیرت دینی کا ہے علاج
ملا کو اس کے کوہ و دامن سے نکال دو

د افغانانو د دیني غیرت علاج دا دی چې له سـمې او غر څخه یې ملا و اېسـتل شـي یو خو له لویه سره زموږ په هیـواد کې د تاریخ پـه اوږدو کې د ملایانو پـه قربانیو او خواریو خاورې اړول شـوي او د هغوی ډېرو سترو سترو کارونو ته په کمه سترګه کتل شوي دي، بل زموږ یو شمېر لوسـته طبقه په دې فکر دي چې مـلا د زعامت اهل نه دی او نـه مني چې د هیواد په اسـتقلال او خپلواکۍ کې هر وخت سـتره ونډه او رهبري د مـلا ده .خو د نویيمو کلونو د ناخوالو خاتمې ته د هرې طبقې لوست خلک او روڼ اندي بې وسـه شول، یوازې همدا ملا و چې د خپلو همفکره او دردمنو ملګرو په ملتیا او قربانیو یې دغو ناخوالو ته د پای ټکی کېښود او له منځه تلونکی او ټوټه شوی هیواد یې بېرته واحد افغانستان کړ .په رښتیا چې زموږ ځورېدلي او دردېدلي مظلوم ولس ته د ده شخصیت د نجات الهي لورینه وه، چې زموږ ولس پرې له بې مثله ناخوالو، کړاوونو او نـادودو نجات وموند او هېواد مو له تجزیې او له منځه تلو پرې وژغورل شو.

**مولوی محمدابراهیم نبیل**

فرحمه الله وجعل الجنة مثواه

له ( احساس مې په قلم کې) کتاب څخه

# د عمر ثالث د جهاد او قیادت له برکته اوس هم پایو!

م حمادشیرزاد

د امت د عظمت او برم د لوړ ساتلو لپاره الله تعالی د زمانې په هر آن کې د امت له منځ څخه یو شخصیت نه یو شخصیت ساتلی وي، تر څو هغه د امت قیادت وکړي، د خپل دین د سربلندۍ او تنفیذ لپاره هڅې او کوښښونه وکړي، د عثماني خلافت تر سقوط وروسته مسلمانان له سختو کړاوونو سره مخ شول، یو پر بل پسې یې ټولې مفتوحه او خپلې سیمې له لاسه ورکولې، د وحشت او خزان سیلۍ مسلمانان ډېر په مخه کړي وو، د اسلامي تمدن او تاریخ د ویاړلیو ځایونو او اماکنو تقدس کفر پایمال کړ، مسلمانان یې د قومیت، عصبیت، وطنیت او لسان پرستۍ پر نومونو ووېشل او تر دې چې بیت المقدس یې ونیولو.

افغانستان هم د دغې خزان تر اثر لاندې راغی، خو وګړو یې د غیورو مشرانو لاره تعقیب کړه کفري او انګلیسي پوځونه یې مات کړل، تر دې چې روسان هم دلته مات شول او بیا خپلمځي جګړو زور واخیست، الله تعالی د افغانانو د سر سیوری راولېږه، د مظلومانو د غږ اخیستنې فرېښته یې راولېږله، نه یوازې دا چې د مظلومانو غږ یې واخیست، له اولې ورځې یې تر ننه خپل اسلام، هېواد او ولس ته کوم پیغور پرېښود، بلکې برعکس یې ورته ویاړونه او افتخارونه راوړل.

په نویمو کلونو کې د افغانستان فضاء د ظلم، ستم او فساد څخه ډکه وه، هر لور ته چور/چپاول او د فساد ملېشو د افغانانو هوسا ژوند حرام کړی و، له دوی یې آزادي اخیستې وه، ځورول، ربړول او قسم قسم جنایتونه پرې ترسره کېدل، د لوی ملا صاحب رحمه الله په داسې وخت کې راپاځېدل او قیام کول د افغانانو لپاره د رحمت له فرېښتو هېڅ کم نه و، په ډېر لږ وخت کې یې افغانان د ظلمونو، ستمونو، پاټکونو او نورو ربړوونو خلاص او د یوه بیرغ او مثالي نظام تر سیوري لاندې یې راټول کړل.

زموږ په چم/ګاونډ او نوره اسلامي نړۍ کې ډېر هېوادونه دي چې په هر لحاظ له موږ څخه پیاوړي دي، خو افسوس چې د کفر په غلامۍ، ملګرتیا او چاپلوسۍ کې هم له هر چا مخکې دي، لامل یې د جهاد پرېښودل او د یو ریښتیني زعامت او قیادت نه شتون دی، افغانان چې نن دنګه غړۍ پایي دا د لوی ملا صاحب د جهاد، قیام او قیادت له برکته؛ ځکه ملا صاحب په داسې وخت کې د امت لپاره د جهاد ویده چیغه راپورته کړه، چې ټوله نړۍ خاموشه وه، داسې وخت کې یې د اسلامي نظام د بنسټ ډبره کېښوده چې کفري نړۍ په نوره د مسلمانۍ په ختمولو اخته وه.

دا چې نن په ټوله نړۍ کې یوازې موږ په خپل دریځ ثابت ولاړ یو، مخامخ ګورو چې دښمن مو څو چنده زیات قوي دی، خو بیا یې هم پر وړاندې د مبارزې او جهاد نعرې او ټمر وهو، ځکه چې کوم احساس زموږ په ضمیرونو کې لوی ملا صاحب را اچولی، کوم درس د آزادۍ چې هغه مرحوم راکړی، نن هم زموږ په زړونو کې ژوندی دی.

د ملا صاحب ایماني غیرت و، چې د خپل ځان نه زیات د څو چنده مضبوط دښمن پر خلاف یې د مبارزې ټمر وواهه، خو اسلام، وطن او ولس ته یې پیغور پرېنښود، هغه د عصر ابرهیم خلیل الله و، د کفر بتان یې ونړول، هغه د خپل عصر عمرثالث و، پر مسلمانانو یې د عدل، انصاف، حیاء، عزت، استقامت، ثبات او صداقت پاچاهي وکړه، هغه د دې عصر ثاني سلطان ایوبي و، د مظلومانو د غږ اخیستنې لپاره هرې سیمې ته رسیدلو.

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې که نن مسلمانان پایي د لوی ملا صاحب د جهاد له برکته، اسلامي امت ته د ملا صاحب دا خدمت هم بس دی، چې ویده احساس او مړ ضمیر یې ورته رابیدار کړ، له کفر سره یې د مقابلې ډګر ته وهڅول، نن یې د ټولې نړۍ مجاهدین د خپل مشر او د جهاد د مؤسس په نامه یادوي.

# هغه شخصیت چې هېواد یې لا هم د احساناتو پوروړی دی

خالق یار احمدزی

د تاریخ په زرین باب کې ډېر کم داسې تر سترګو کېږي، چې یو څوک دې په نشت امکاناتو د یوه سپین خوځښت د سرلاري په توګه راپورته شي، هم یې ملګري په نشت حساب وي او هم یې د فکري داعیې غوښتونکي د ګوتو په شمېر وي؛ بیا د یوه لوی حرکت رهبر شي، په کمه موده کې د ټول هېواد د حاکمیت چارې په لاس کې واخلي او تر څو کلنې واکمنۍ وروسته یې د بخت ستوری را وپرځېږي، خو تر دوه لسیزې مقاومت وروسته یې فکري ملاتړي پر دې وتوانېږي، چې هم د نړۍ د واکمنو یرغلیز تاراج په بل مخ کړي او هم د بهرنیانو او داخلي برېڅو ترسیم شوې فرضیې ناسمې ثابتې کړي.

هو! همدغه ستر شخصیت د هېواد په کچه هغه ستوری و، چې د اسلامي تمدن د سرلارو په تاریخ کې یې نوم ثبت کړ او فکري لارویان یې د عمرثالث لقب ورکوي.

هغه که څه هم د نړۍ په کچه کوم وتلی عالم نه و او نه یې د عصري زدکړو په برخه کې دکتورا کړې وه؛ خو ایماني فراست او ذهني بصیرت یې تر دې کچې و، چې دوست او دښمن یې په وړتیا معترف او ټول خلک یې پر ځان راټول کړل.

یوه خبره ده وایي، په خپل کور، کلي کې پر خلکو ځان منل د معجزې تر کچې وي او بیا د هغو افغانانو پر ځان راټولول، چې وایي له امتیاز پرته بل څه ته سر نه ښکته کوي، واقعاً سخت کار دی؛ خو عمر ثالث دا کار په دومره حیرانونکې بڼه ترسره کړ، چې نړۍ لا هم ورته د حیرت ګوته په غاښ ایښې ده.

هو! همغه مهال که د شر وفساد د لښکرو د تاراج، چورچپاول له امله، حالات د یوه سپین خوځښت رامنځته کېدو ته مساعد شول؛ خو د یوه ټولمنلي کس قیادت ته هم اړتیا وه، چې هم د شروفساد له لښکرو له ډلې څخه نه وي او هم هېواد د شریرو کړیو له مرموزو موخو وژغوري.

هغه مهال د شر وفساد لښکرو کې بهرنیو کړیو د هېواد د تجزیې په خاطر مخفیانه نفوذ کړی و او غوښتل یې د هغوی له داخلي جګړو په استفادې سره، هم له مات شوي شرقي اشغالګر قوت سره د افغانانو جهادي مقاومت تر سوال لاندې راولي، هم د غرب د مداخلې لپاره لار هواره کړي او هم د جهاد او مبارزې نوم او باور په خلکو کې لمنځه یوسي؛ خو ملامحمد عمرمجاهد یې د نالیدلو خوبونو دا خیالي تعبیرونه ډېر ژر ناسم ثابت او د هغوی لوی پلانونه یې په نطفه کې خنثی کړل.

هغوی ته یې دا وانمود کړه، چې افغانان د اوبو په څېر دي، که څومره یې هم د جلا والي هڅه وشي، بیرته ځان سره یوځای کوي او داچې نور د بهرنیو دسیسو پر وړاندې افغانان ویښ شوي، هېڅ یو بهرنی یرغلګر یې د خپلو مرموزو موخو لپاره نه شي ویشلای.

د فدارلېزم، ملکوالطوائفي، غیر متمرکز نظام او.... شعاریزې انګازې چې نن د فرانسې او امریکا له کمپونو پورته کېږي، هغه مهال هم له همدې آدرسونو سپانسر کېدلې، خو د امریکایي اشغال پر مهال، همغه ډلې ټپلې د واک ګدۍ ته راوستل شول، په ځانګړو ارزښتمنو نومونو ملقب شول او د دې لپاره چې په افغانانو یې ومني، په سترو امکاناتو ونازول شول؛ اقتدار ورکړل شو او د مارشالانو، جنرالانو او.... نومونو او القابو ورکړه بازاري شوه؛ خو دغه پرسېدلې پوکانۍ ډېر ژر د یوه کوچني اغزي په فشار سره لمنځه ولاړې او د تل لپاره یې دا خیالي دیکتاتوري ونړېده.

بلې! که د اوسنۍ سوبې په تر لاسه کېدو کې مخامخ عمر ثالث نه و، خو د منهج لارویانو یې پل په پل د هغه مسیر څاره او د هغه په قدم سم روان و، تر دې چې یې یوځل بیا د بریا توغ د نړۍ په ستر بام هسک ورپاوو.

# د ثالث عمر ملي مبارزه

رحمت ګل وقار

د هجرت دیار و، موږ هم د زلمیتوب په درشل قدم ایښی و، هر چېرته او له هر چاسره دا خبرې وې چې امریکا پر افغانستان یرغل کوي، هر چا د خپل برداشت سره سم دا حمله تحلیلوله، خو د امریکا پر وړاندې د مبارزې او مقابلې خبرې زیاتې وې، د یو بل ځل لپاره د لویې قربانۍ خبرې کېدې، د مشر ملاصیب عمر ثالث رحمه الله رجالي ځوابونه او مرکې د رسنیو سر ټکي وو، زموږ والدصیب په کور کې د امریکا احتمالي حملې په تړاو د روسانو د تیري او د هغوی په مقابل کې ددوی د مبارزې او مقابلې کیسې کولې.

اوس مې هم یاد شي، په لاره روان وم له ځانه سره مې ویل چې پلار او نیکه مو دا قرباني او امتحان ورکړی دی، لکه چې اوس ستا نوبت شو!

په مسجدونو کې علماوو د امریکا پر ضد شعارونه ورکول او خلک یې جهـاد او مجاهدې ته هڅول.

باالاخره هغه توره ورځ هم راغله چې د وخت فرعون بُش سره د نورو کفري اشربانو په افغانستان هوایي او ځمکنۍ حمله وکړه.

د خطونو سترې طا لبان یو ځل بیا د ټولې نړۍ له پرمختللي جنګي ماشین سره مخ شول، ځوانۍ بیا لولپه شوې، دښمن منعه شوي بمونه وکارول او آن داسې هم ولیدل شول چې طالب د خپل توپک سره یو ځای د باروتو په لمبو لولپه شو.

د عمرثالث ملګرو د غرونو ډډې ونیولې او د بیا لوی انقلاب تابیا یې ونیوله، نوي ځوانان د اعداد لپاره مرکزونو ته لاړل چې موږ هم د یوې ډلې د سربښندونکو ملګري شو.

انګیزه دا وه چې عمر ثالث رحمه الله په یو مسلمان غیرت وکړ، د اسلامي نظام ننګه یې وکړه، د شریعت احکام یې پلي کړي ول، نو امریکا او ملګرو یې دا شرعي نظام نشو تحمیلولی.

مراکزو کې له اعداده ډلې ډلې ملګري فارغېدل او د بُش فوځ پر وړاندې مقابلې ته وتل.

موږ په مرکز کې ولیدل چې ډاکسن موټرې له نوبو فارغ شوو طالبانو ډکې شوې، تشکیل ته د مقابلې لپاره تلل، چې د ځینو ملګرو عمرونه کم وو او یا یې اعداد پاتې و، نو هغوی د تګ هیله درلوده او امر یې اجازه نه ورکوله، دوی په چیغو چیغو وژړل او ویل یې چې موږ د امریکا پر وړاندې د جهاد ډګر ته د خپلو ملګرو سره یوځای ځو، خدای ج شته چې دا حالت مې وکوت نو لا مو جذبه هڅانده شوه، وینه مو په جوش شوه او د امریکایي عسکرو سره د مخامخ مقابلې شوق مو لا غښتلی شو.

د اعداد له فراغت وروسته مو خوندور تشکیل وکړ او د بُش عسکرو سره مو مخامخ سینه په سینه مقابله وکړه، اوږد انقلاب تېر شو، دنګ دنګ ځوانان مو شهـیدان شول، میندې بورې او کونډې شوې، داسې چې د وطن هیڅ ډېره، کور، کلی، مسجد، غم، ښادي له بمباره پاتې نشوه.

باالاخره د لامثاله قربانیو او د مشرانو په سیاسي بصیرت سره د کفري ځواک مشرانو مخامخ مذاکراتو ته ګونډه ووهله او د تېښتې خبره یې وکړه. د لوی ملاصاحب عمر ثالث روح دې ښاد وي، نن یې کلیزه ده، د همغه وخت خبرونه یې لا اوس هم زموږ په غوږونو کې ازانګې کوي، د الله شکر دی چې پدې شهیدپروره هېواد یو ځل بیا اسلامي امارت حاکم او نظام مو بشپړ شرعي شو.

# رجل القرن أمير المؤمنين ولعله سادس الخلفاء الراشدين «الملا عمر»

عاکف مهاجر

ثالث عمر او شپږم د خلفاء راشدینو د افغانستان په تاریخ کې ګڼ داسې سرې تېر شوي چې یاد یې د ټولې اسلامي نړۍ لپاره ویاړ دی خو ثالث عمر هغه څوک و چې د اوسني قرن خلک یې داسې نه بولي چې ګواکې هغه دې د دې قرن پورې تړاو ولري بلکې وایي نه هغه داسې و لکه ډېر وړاندې چې تیر شوی وي.

د هغه په اړه یو عرب لیکوال عبدالرحمن خطاب وایي چې رجل القرن.. أمير المؤمنين ولعله سادس الخلفاء الراشدين «الملا عمر» هغه د خپل قرن مخکښ سړی و او شاید هغه شپږم د خلفاء راشدینو و هغه ملا عمر و.

نن د هغه امیرالمؤمنین تلین دی چې بې له خدایه هیچاته تسلیم نشو او د ژوند ترپایه یې سر ټیټ نه کړ او امت ته یې لوی درس پرېښود چې لکه څنګه رسول صلی الله علیه وسلم له یو خندق څخه جګړه په خپل نوم کولی شي همدا راز امت یې هم که د هغه په لار لاړ شي د خدای نصرت به ورسره ملګری او د بریا تر څوکو به رسیږي.

هغه داسې یو څوک و چې له کلونو وروسته یې بیا له الهي ارشاداتو سره سم د امربالمعروف او نهی عن المنکر مهمه دیني وظیفه چې له خلکو ویره شوې غوندې وه راژوندی کړله او یوه ځانګړې اداره یې ورته جوړه کړه او په ټولنه کې یې د منکراتو مخنیوی، د معروفاتو اقامه او د خرافاتو او بدعاتو مخه یې ونیوله.

همدا راز یې یو ځل بیا د حدودو ویر شوی حکم د خلکو په اذهانو کې ژوندی او دغه الهي حکم یې تطبیق کړ.

هغه امیرالمؤمنین چې په خپلو خلکو یې د ترحم بېلګه کمه وه.

که څه هم هغه مهال هم لکه د اوسنی فتحې په څېر د هغو مجرمینو ښېل د عقل له لحاظ څخه لرې و، خو ملا صاحب تر پایه هڅه کوله چې له جګړې وړاندې باید د مصالحې کوشش وشي تر څو له جنګ پرته د هیواد صالح قوتونه تر یوې قومندې لاندې د یو متحد اسلامي نظام لپاره لاس په کار شي.

هغه مهال امیرالمؤمنین د اسلامي کانفرانس او د افغانستان د ګاونډیو هیوادونو په منځګړتوب په سویس، جده، تاشکند، عشق اباد او اسلام اباد کې څو پړاویز مذاکرات ترسره کړل تر څو د افغانانو ترمنځ دا د وینې بهیدلو سیلاب بند او ټول په یوه باامنه هیواد کې راټول شي.

همدا راز لکه اوس چې د هیواد او نظام دښمنان وایي چې اسلامي امارت د ښځو د تعلیم مخالف دی هغه مهال هم دغه سندره بدرګه کیدله خو واقعیت بل څه و هغه دا چې امیرالمؤمنین صاحب په ښکاره ویل چې مونږ د ښځو د تعلیم مخالف نه یو او نه یې هم له تعلیم څخه منع کوو بلکې ویل یې چې ښځې دې د شرعي احکامو او شرایطو په رعایت کولو سره تعلیم وکړي او د ستر، عفت، او شرعي آدابو په ساتلو سره دې په مصئون چاپیریال کې زده کړې وکړي.

ویلی شم چې هغه د عزت او عظمت یوه نښه وه او تل به یې یاد پاته وي.

## اې تر تورو خاورو لاندې قلندره!

**عبدالنافع ټکور**

ستا د بې باون پاور و زوروره
زه طالب وم هرچا ویشتم په ډبره
زه لـه پلار او موره ورک وم درپدره
ستا به یاد وي نړیواله ستمگره

ستا به یاد وي موږ په ییلو پښو روان وو
موږ د نیمو شپو لارورکي لارویان وو
موږ دټول جهان بې حده دښمنان وو
ستا له لاسه راته اور افغانستان وو

وه ظالمه ستا د ظلم انتها وه
په موږ جوړه یوه بله کربلا وه
د بې وسه مسلمانو واویلا وه
پرې راسمه ستا د کبر اژدها وه

دلتـه چیغي وې ژړاوې وې فریاد و
ژوند کول دلته ناشونی و برباد و
د کلسټر تربمو لاندې مو هیواد و
د نـړۍ لوېدلی موږ سره تضاد و

موږ تخمونه دجهاد شـوو موږ مړۀ نه شـوو
موږ د وخت په تېرېدو سره راشـنه شوو
موږ کرار کرار قوت پیدا کړ ښـه شوو
اوس به پته درته شـوې وي چې څه شوو

له مغرورې نړۍ جوړه ده سـوالگره
خپلواکي مو ترېنه واخیسـته په نره
اې تـر تورو خاورو لاندې قلندره
سر راپور ته کـړه ملا محمد عمره

سر راپورتـه کړه په موږ باندې اختر دی
پـه هیواد د ازادۍ ختلی لمر دی
خپـل مو کلی خپـل جومات دی خپل ممبر دی
او تکبیـر د تور پټکي ملا برادر دی

## نظم

**مخبت وردک**

اوس مو سـلام کړه له کابله قبول
تـر خاورو لاندې قلندره مشره
ده ستا لښـکر په ټول هیواد حاکم دی
ځـای د خالي دی ملا عمره مشره
شـهید ملا اخترمحمد منصوره
ستا قربانۍ اوس نتیجه راوړې
چې د پـه اور باندې کباب کړه
هغـې ځوانۍ د نتیجه راوړې
رب د قبول کړه شـهادت په در کې
امیر سرمیر شـهید رهبره مشره
ای مولانـا جلاالدین حقاني
د وخـت ایوب صلاح الدین حقاني
ستا قربانیو ته ځانگړی سلام
ریښـتیا مین وې په پاک دین حقاني
چې سـتا ملگري او بچیان دي چیرته
ټـول دي جهاد ته تیر له سره مشره
ای نادرک استـاد یاسره سلام
په کومه ولاړې د زړه سره سـلام
د کوم حاسـد په زولنو کې بند شوې
شـولې پناه زموږ له نظره سلام
نشـتون دې دي ملت ته شو لوی تاوان
بیاشـه راستون استاد یاسره مشره
وینو د رنگ راوړو شـهیده یاره
ستا امارت ده سـتاپه کور واکمن شو
سـتاله ځوانۍ او قربانۍ نه قربان
ده سـتاکاروان دلته اوس نور واکمن شو
آزادي راغلله له سـپین دفتره
فتحه بیا راغله له سـنگره مشره
گوری ارمان د شـهید خاورې نه کړئ
گـوری ډیر پام به د سرو وینو کوی
پـه دې هیواد کې لږ حالات بدل دي
خیال به د تورو سرو او سـپینو کوی
د مخبت دا غوښـتنه خاص له تاسو
مـلا یعقوب او برادره مشره

## لوی ملا صاحب!

**عاکف امارتي**

سـیاست او ابتـکار دې عجـیبه وو
لوی ملا صـاحب! کـردار دې عجیبه وو

په شـاهۍ کې یو ملنگ غوندې انسـان وې
هـره کړنه او هـر کار دې عجـیبه وو

سـلطنت دې له یو سـپین هدف قربان کړو
د ژوندون هـر یو یادگار دې عجـیبه وو

دعـربـو او عـجـم د زړو درمـانـه
عظـمـتونه او وقـار دې عجـیبه وو

دافـغان تاریـخ د ویـاړ یوه نمونه وې
لوی څادر او سـپین دستار دې عجیبه وو

ممـثل وې د ژونـدون د عـمریـنو
اعـتدال باندې رفـتار دې عجـیبه وو

د (عاکف امارتی) دسـترگـو تـوره!
دښایست هـر یو مـنار دې عجیبه وو

## په رښتیا چې ته ولي د زمانې وې!

**تپانډ زهاد**

صدقه دې لـه غیرت ثالث عمره!
ویاړم سـتا په قیادت ثالث عمره!
په رښـتیا چې ته ولي د زمانې وې
وې لایـق د خلافت ثالث عمره!
یرغلگر دې پـه گونډو کړلو اتله!
وې مؤسـس د امارت ثالث عمره!
د منبر او د سـنگر وې ته ساتونکی
ځار شم ستا له شـهامت ثالث عمره!
د جهاد سـتر بنسټگر وې زموږ مشره!
قربان سـتا له سیاست ثالث عمره!
پیشـگویي دې شوه ثابت د زړو رهبره!
منو سـتا موږ کرامت ثالث عمره!
د اسـلافو په قدم باندې روان وې
دین ته وکړ تـا خدمت ثالث عمره!
زه تپانـد زُهاد په هر کردار دې ویاړم
سـتا سره مې محبت ثالث عمره!

## ملا محمد عمره...!

**سهاک حیران**

شـان دې اوچت کړ د افغان په لر او بره
ملا محمد عمره غیرت ته دې سـلام دی
پـه مومنانو باندې گران وې
تـه پرې له حده مهربان وې
وطن دې پاک کړو له فسـاد او هم له شره
ملا محمد عمره غیرت ته دې سـلام دی
سـتا فدایان د نیل څپې وې
موټـر بمونه صاعقې وې
د وخت فرعون یـې کړ چپه زمونږ رهبره
ملا محمد عمره غیرت ته دې سـلام دی
کفار لـه تا نه ترهیدل ټول
سـتا له غیرت نه ویریدل ټول
سـتا نوم عذاب وه د طاغوت لعین په سره
ملا محمد عمره غیرت ته دې سـلام دی
ابابیل سـتا هر یو عسکر وه
وار یـې هر فیل ته برابر وه
کړ یې ټوټه د ابرهه ناټو لښـکره
